# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| ادبی - فرهنگی | Literary - Cultural |
|---|---|



محمد هارون خپل شعشعی


۱۵ می ۲۰۱۲

# په ویلو او لیکلو کي همرنگي یا نیژدې والی

## دریمه برخه

**د پښتو وینګ او کښنګ په همرنګی یا نیژدې والي کي د« کول » او « کړل » مسأله**

په پښتو کي د کار کولو دپاره عموماً دوه فعلونه کاریږي، چي یو یې « کول » او بل یې «کړل » دئ . دا دوه فعلونه د ټولو پښتنوپه ورځنیو خبرو او مرکو کي لیدل؛ خو د پښتو په زموخته رسمي او مطبوعاتي ژبه کي یوازي د یوه فعل ( کړل ) استعمال ګورو او بس . په ژبه کي د وینګ او کښنګ د یو رنګی مسأله په کلکه غوښتنه کيي، چي شفاهي او تحریري ژبه باید کټ مټ یو شان يي . په بله وینا، د شفاهي خبرو فعلونه او نور ژبني جوړښتونه او سکښتونه باید په لیکلو کي هم استعمال سي؛ مثلاً موږ په خبرو کي وایو: « پلانی کار چا وکئ؟ » خو په لیکنه کي کاږو: « پلانی کار چا وکړ؟ » دوهمه جوملہ زموږ له شفاهي او ګفتاري جوړښت سره سمون نه لري؛ ځکه د « ړ » ږغ په ویلو کي ګران او درونډ دئ . خلګ يې تر وسه وسه له ویلو ډډه کيي؛ مثلاً هیڅوک نه وایي : « کتاب دي چاته ورکړ؟» بلکي د دې پر ځای وایي : « کتاب دي چا ته ورکئ یا ورکه؟ » موږ ټول وایو: « پلاني د خپل مېلمه هرکلی وکئ/ وکه . » نه وایو، چي « پلاني د خپل مېلمه هرکلی وکړ . » ټول پښتانه په خپلو اولسي سندرو او غاړو کي وایي : « شین خالی به خدای پیدا کي- توره شپه به خدای روڼا/ رڼا کي »؛ خو سره له دې هم په لیکلو کي کاږو: « شین خالی به خدای پیدا کړي - توره شپه به خدای روڼا/ رڼا کړي » زموږ په جعلي او غیرطبیعي مطبوعاتي ژبه کي ولي همېشه په دغه راز جوملو کي د « کول » پر ځای « کړل » استعمالیږي؟ مګر « کول » د کومي بلي ژبي کلیمه ده، چي د ژبې بې خبره سوچه پالونکي يې له لیدو تراه کيي؟!

البته، د « کړل » فعل دپاره هم په ژبه کي جلا جوملي لرو لکه : « احمده څه دي وکړه؟ » یا وایو: « ښه مو وکړه، چي زموږ خواته راغلاست . » او داسي نور. په دغه راز جوملو کي هیڅکله « کول » فعل نه کاریږي . موږ حق نه لرو، د ژبې اولسي جوړښتونه او سکښتونه په شعوري ډول تر پښو لاندي کو. که « کول » کټ مټ د « کړل » مانا رسيي؛ او موږ يې شپه و ورځ په خپلو خبرو او مرکو کي هم وایو، بیا يې نو د اړولو یا حذف

کولو اړتیا په څه کې ده؟! زما خو په دې خبره هیڅ سر نه خلاصیږي، چې ولې بایدخامخا په دې یا هغه نامه د خلګو سپېڅلي او خوږه ژبه بې خونده او کږه وږه کو؟! له بلې خوا، ایا په دا ډول تقلیدي او کورکورانه لیکلارې سره د پښتو ژبې لغوي، ادبي او ګرامري زېرمه نه محدودوو؟!

## د وینګ او کښنګ په همرنګۍ یا نیژدې والي کې د ځینو مُغیره حالاتو مسأله

که څوک په خبرو کې« دپاره » وایي باید په لیکلو کې هم هرومرو « دپاره » وکاږي نه « له پاره یا لپاره »؛ ځکه « دپاره » پر لرغونتیا او اصالت سربېره د میلیونو پښتنو په ورځنیو خبرو او مرکو کې ژوندۍ کلیمه ده . موږ په جنوب - لوېدیځه لهجه کې « واله »، « لار »، « بولګه » وایو؛ د نورو لهجو ویونکي یې په ممال شکل وایي : « ویاله/ یاله »، « لیاره »، « بېلګه ». هیڅ دلیل نسته، چې دا معیاري او هغه غیر معیاري وګڼو. ماته چې « پزه »، « واله »، « شیدې »، « ملغلره »، « پسرلی »، « پسور »، « لار »، « ببره »، « بولګه »، « ګچه » او داسې نور اسانه دي، همېشه یې په همدې ډول کاږم، نورو ته چې « پوزه »، « ویاله/ یاله »، « شودې »، « مرغلره »، « سپرلی »، « سور »، « لاره/ لیاره»، « وېره/ بره »، « بېلګه »، « کچه » او داسې نور اسانه دي، تل دې په همغه ډول کاږي . په دې کوچنیو موچنیو توپیرو پښتو هیڅکله له معیاري توبه نه را ګرځي؛ ځکه دلته د « موږ »، « میږ »، « مونګ »، « مینګ »، « موګ » او داسې نورو پر خلاف د توپیر او رنګارنګۍ ورشو دونه پراخه نه ده، چې لوستونکي ځان پکښې ورک کې؛ او د ژبې د پرمختګ مخه ونیسي . د انګرېزي ژبې په برتانوي او امریکایي لهجو کې هم د دغه ډول مغیره تلفظو او املاوو شمېر لږ نه دئ .

موږ په جنوب - لوېدیځه لهجه کې د ښځینه شي یا شخص د توصیف دپاره د « لو» صفت کاروو، چې په لرغوني ادب کې هم پراخې بولګې او مثالونه سته؛ مثلاً موږ وایو : « لو واله »، « لو ډېره »، « لو ښځه » او داسې نور . په نورو لجهو کې وایي : « لویه ویاله/ یاله »، « لویه ډېره »، « لویه ښځه » او داسې نور. « لو » او « لویه » دواړه بالکل سم او سهي دي . د غزني له مقُر څخه بیا تر هراته ، له تخار، کندوز، فاریاب او بادغیس څخه بیا تر جنوبي پښتونخوا پورې ټول پښتانه په پوهېږي . که کنداری په خبرو کې د « لو والي » پر ځای « لویه ویاله » ووایي، نو کنداریان هرومرو د تعجب او اریانی په سترګه ورته ګوري؛ ځکه « لویه ویاله » د دوی د وینګ سکښت او جوړښت نه دئ . اوس نو که په ویلو کې « لو واله » وایو، خو په لیکلو کې « لویه واله » کاږو، ایا دا د وینګ او کښنګ تر منځ ناحقه او بې ځایه جلاوالي ته لمن وهل نه دي؟ موږ باید تر یوې ریښتیني او منلي معیاري ژبې مخکې لږ تر لږه خپلې لویې لهجې هم وپېژنو. کله چې مو ټولې یا لږ تر لږه لویې لهجې وپېژندلې بیا به په هغو کې د سادګۍ، اسانۍ، ښکلا، پوخوالي او عمومیت پر بنسټ یو د نورو له منځه خوښوو. په دې حقیقت هم باید ښه سد ورسوو، چې معیاري ژبه نه د یوه ژبپوه، لغتپوه او ګرامر پوه په فتوا منځ ته راتلای سي؛ او نه هم د سیاسي واکمنانو په قانوني یا غیرقانوني پرېکړو. معیاري ژبه په واقعیت کې د یوه هیواد یا یوې سیمې د همژبو اولسو د سیاسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي اړیکو د ټینګښت او پیاوړتیا په نتیجه کې منځ ته راځي . هر څونه چې دا راشه درشه یا مناسبات ټینګ او اَرَت یي، په هغونه اندازه د یوې معیاري ژبې د زېږېدو، ودې او پرمختګ لار لنډېږي . موږ دمګړی له یوې معیاري ژبې څخه لیرې یو.

ما په پښتنو کې له هیچا څخه نه دي اورېدلي، چې پینځه (۵) ته دې، « پنځه » او «پینځلس» ته دې «پنځلس» و وایي . په بله وینا، هر پښتون دا عددونه د « پ » په زېر وایي، چې سمه او سهي بڼه یې هم داسې ده، نه «پنځه» او « پنځلس » بې « ی ». په پخوانیو خطي نسخو کې هم د « پینځه » مثالونه خورا ډېر دي . سره له دې هم

زمونږ زیاتره لیکوال په پټو سترګو دا ټکي بې « ی » لیکي . « هینداره » پښتو ټکی دئ، چي د جنوب - لوېدیځي لهجي ټول پښتانه یې د « هـ » په زبر ( هینداره) وایي . د ختیځي او مرکزي لهجي زیاتره ویونکي د هینداري پر ځای د پهلوي/ پارسي ژبي « آیینه/ آئینه » استعمالیي . د پښتو ادب په منځنی دوره کي یا له پارسي «آیینې/ آئینې » یا د هندي ژبي د « آرسي » له مفغن شکل ( اُرسی) څخه کار اخیستل سوئ دئ . د دې استدلال له مخي نو پښتو« هینداره » تر « آیینې/ آئینې » او « آرسی/ اُرسی » دوارو غوره ګڼله کېږي؛ خو سره له دې ټولو خبرو، زمونږ ځیني لیکوال، شاعران او حتا لوی او نامي څېړونکي هم تر اوسه پوري دا پښتو ټکی د« هنداري » په بڼه کاري، چي د خلګو له عام او مروج تلفظ سره روښانه مغایرت لري . زما د دې قدامت پالني په منطق هیڅ سر نه خلاصیږي . نېخه چي ولي باید د « غُندِ »، « ګُندِ »، « چه » او داسي نورو په شان اصیلي پښتو کلیمي هم د عربي دود او دستور له مخي وکارو؟! « یینداره »، « ینداره » او « ایندارہ (په دې ډول لیکدود کي بیا هم وعربي اِعراب ته اړتیا لیدل کیږي) ټوله تر « هنداره » زمونږ له پښتني تلفظ سره ډېر سمون او همرنګي لري .

زه د کندهار (Kəndahā́r) ،کنداری (Kəndā́ray) او کنداري (Kəndā́rí) په ویلو کي د ږغپوهني او ږغ پېژندني له نظره ډېر توپیر ګورم . د جنوب - لوېدیځي لهجي ویوونکي وایي : « مونږ د کندهار یو. » په دغه راز جوملو کي « کندهار Kəndahā́r » کلیمه له « هـ » سره یو ځای ویله کیږي . یاني په تلفظ کي له ورایه د « هـ » ږغ شامل دئ . په ځینو نورو جوملو کي بیا « هـ » د« کندهار» په تلفظ کي برخه نه لري؛ مثلاً خلګ وایي : « پلانی کنداری دئ . » نه وایي : « پلانی کندهاری دئ . » یا وایي : « د پلاني کنداري کره تللئ وم . » په داسي جوملو کي هم د« کندهار » ټکی بې « هـ » ویل کیږي . ایا په داسي حالاتو کي، مونږ د خلګو د خاص ږغیز جوړښت د اړولو او کړولو واک لرو؟! باید د وینګ او کښنګ دې مهمو فرقو ته سم او دقیق پام وکو؛ او هر څه له وینګ سره یو شان وکارو. زما په عقیده، تر هغه وخته، چي ژبني توپیرونه او اختلافات ډېر پراخ او بې لاري کوونکي نه یي، باید د خلګو په لیکنی ژبه کي بې ځایه او بې دلیله لاسونه و نه وهو؛ او هر څه په خپله اصلي یا اوربجنل بڼه وکارو . بېله شکه که چیري د توپیرو او رنګارنګی ورشو پراخه سوه، بیا یې نو د اسانی، سادګی، ښکلا، عمومیت او پوخوالي له مخي باید، په ګډه، پر یوه منلي معیاري بڼه، سلا او مشوره وسي .

که غواړوچي د اولس ژبه په پوره امانت وساتل سي، باید نه یوازي د بېلابېلو ټکو په لیکلو کي د هغو ږغیزي ځانګړتیاوي له پامه ونه غورځوو، بلکي د داسي ناوړه جعل سوو، ترجمه سوو، بې خونده او بې محله ټکو، ترکیبو او عبارتو له کارولو څخه هم په کلکه لاس واخلو، چي د خلګو په ژبه، ادبیاتو او فرهنګي دود و دستور کي ریښه یا استعمال نه لري . په بله وینا، خپلي خبري، نظریې او مفکوري باید تل په داسي ټکو، عبارتو او جوملو بیان کو، چي د خلګو په ژبه کي باب یي؛ خلګ یې په مانا او مفهوم ښه وپوهېږي؛ او له اروېدو یا لوستلو څخه یې خوند واخلي . یوازي دغه راز بیانونه او لیکني د اولسو د ژبي، ادبیاتو او کولتور / کلتور ریښتینی استازیتوب کولای سي . « صورت نیول »، « اړیکه نیول »،« تر مشری لاندي »، « تر مطالعي لاندي »، « تر معالجي لاندي »، « په لاره / پر لاره اچول »، « لاسته راوړنه »، « ترینګلي حالات »، « تشریف راوړل » او داسي نور په پښتو یا « به خورد مردم دادن »، « به خوانش ګرفتن »، « روی خط بودن » او داسي نور په دري کي، ټول زمونږ د خلګو له ساده، خوږې او پخي ژبي سره سمون نه لري . د پښتو په کرغېړنه مطبوعاتي ژبه کي وایي : « اړیکه ونیسئ! » زه نه پوهېږم، چي اړیکه څه شي ده؛ او ځنګه نیول کیږي؟! اول خو باید « اړېکی » و ویل سي نه « اړیکه » . دوهمه پوښتنه دا ده، چي اړیکه یا اړېکی، څنګه نیول کیږي؟ ما خوله هیڅ

پښتانه څخه دا پوچ او جعل سوئ عبارت نه دئ اروېدلئ . کله کله د تلوېزون نطاقان په تليفون کي له چا سره د خبرو پر مهال وايي : « اړيکه به واورو يا اړيکه به را واخلو » کله کله بيا وايي : « اړيکه روښانه نه ده » حال دا چي زموږ خلگ د « اړيکه ونيسئ! » پر ځای په ساده او خوږه ژبه وايي : « خبري را سره وکئ! »، « خط/ ليک را ولېږئ! »، « ايميل را ولېږئ! » او داسي نور . پښتانه هيڅکله په خپلو ورځنيو خبرو کي نه وايي، چي « اړيکه به واورو يا اړيکه به را واخلو » بلکي وايي : « له ليدونکو يا اروېدونکو سره به خبري وکو» کله چي په تليفون کي ږغ سم نه اروېدل کيږي، نو موږ همېشه مقابل لوري ته وايو، چي « خبري مو ښې يا سمي نه اروېدل کيږي . » پښتانه هيڅکله نه وايي، چي ليکه يا اړيکه روښانه نه ده . دا ټول د ناپوهو او بې خبره ژبپوهانو، ليکوالو او ژباړونکو له خوا جعل سوي، ترجمه سوي او مروړل سوي عبارتونه دي او بس . په پاړسي کي وتليفون کوونکي ته وايي : « روی خط هستی! » ياني څه؟ سړی څنگه پر خط کېدای سي؟ له اوروپايي ژبو څخه دا ترجمه سوئ، ناوړه او بې خونده عبارت په پښتو او پاړسي کي هيڅ ښکلا، خوند او مانا نه لري . د « روی خط استی/ هستی » پر ځای بايد په ساده او خوږه ژبه وويل سي : « آواز تان شنيده می شود »، « آواز تان را می شنويم »، « آواز تان پخش می شود » او داسي نور . سربېره پر دې ناوړه او ټيل سوو عبارتو، د پښتو او دري په بدخوندو مطبوعاتي ژبوکي په سوو داسي نوي لغتونه اروو، چي د نيولوجيزم (**neologism**) له هيڅ اصل او قاعدي سره برابري نه لري . زموږ خلگ ( پښتانه او دري ژبي) په خپلو ژبو کي ډېر ښکلي، خواږه او با مفهومه لغتونه لري، چي په خواشينی سره يې زموږ پېښه گر ژبپوهان، ليکوال، شاعران او ژورناليستان د پلټني او شنني زيار نه باسي . بايد په روښانه او څرگندو ټکو ووايو: هغه ژبه، ادب او کولتور، نه هيڅکله د اولس په زړوکي ځای نيسي؛ اونه هم هيڅکله د خلگو د ژبې، ادب او نورو فرهنگي ارزښتو استازيتوب او ترجماني کولای سي، چي اولسي تومنه او جوهر ونه لري . له همدې جهته بايد همېشه د ژبې، ادب، هونر او نورو فرهنگي ارزښتو و اولسي روح ته په ټينگه پام وکو.

## د اشخاصو او تاريخي - جغرافيايي ځايو نومونه به څنگه وايو او ليکو؟

ټول پوهېږو، چي مومند، اپرېدی، ساپی، ساکزی او داسي نور د پښتني قبيلو او خېلو نومونه دي . له دې کبله بايد تل په هغه بڼه وليکل سي، چي پښتانه يې وايي . له بده مرغه، زموږ ځيني شاعران، ليکوال او پوهان تر اوسه و دغه راز ټکو ته حق و ناحق هندي، عربي يا پاړسي رنگ ورکيي؛ او د مهمند، صافی، اسحاقزائی، فوفلزائی/ پوپلزائی او داسي نورو په ډول يې کاږي . همدغه راز زموږ خلگ له پېرييو پېرييو راهيسي خپل تاريخي او جغرافيايي اماکن لکه کندهار، روزگان، ارغسان، زين داور او داسي نور په پښتني بڼه وايي، چي ځيني ځيني يې په تاريخي او جغرافيايي اثارو کي هم په همدې بڼه راغلي دي؛ خو د مطبوعاتي او رسمي ژبي ناپوه محتسبين يې هرومرو په هغه ډول وايي اوکاږي، چي د سيمې د خلگو له ژبني دود او دستور سره مطابقت او همخواني نه لري : قندهار، ارزگان/ اور زگان، ارغستان، زمين داور او داسي نور . البته، د ځينو تاريخي او جغرافيايي ځايو د لرغونو نومو را ژوندي کول، کاملاً بېله مسأله ده؛ مثلاً په تېرو دېرشو کالو کي د سياسي ملحوظاتو له مخي پر « جلال آباد » د « زرغون ښار» نوم کښېښوول سو، چي د پخواني نامه را ژوندي کول يې ډېر معقول کار ؤ .

## د ځينو ږغوپه ويلو کي د دروندوالی او فشار مسأله بايد څنگه وښوول سي؟

په زياترو ژبو کي د ځينو ټکو هغه توري دوه پلا کاږي، چي په ويلو کي خج يا فشار راځي؛ لکه ښوونکی، اووه، مسووليت او داسي نور. په انګرېزي کي هم هغه توري په ماضي حالت يا له (**ing**) سره دوه پلا کاږي، چي و مخ تې ږغيز توری (**vowel**) راغلئ يي لکه : **knitting , stopping, transferred, referred** او داسي نور. **shopping, controlling, warring, ebbing**

د پښتو ژبي د ځينو مؤنثو( ښځينه) جمعو په مُغيره حالاتو کي هم د خج يا فشار څرګنده نخښه ليدله کيږي؛ خوموږ يي تر اوسه لا د دود او تعامل په حُکم تر خج پښه اړوو؛ او په يوه توري يي کاږو لکه : پخوانييو، پېرييو، سپلييو، هوسييو او داسي نور. د دې ټکو په ويلو کي د « ی » ږغ دوه واره تکراريږي، چي په واقعيت کي پر همدې ږغ د زور يا فشار څرګندوی دئ؛ ځکه يي نو بايد په ليکلو کي هم د يوې « ی » پر ځای په دوو ياوو وکاږو. بده نه ده دا خبره د فونيميکي الفبي په مرسته، په يوه مثال کي، يو څه نوره هم روښانه کو: لنډئ په مفرد او جمع دواړو حالتو کي يوه بڼه لري؛ خو جمع يي په ټولو مغيره حالاتو کي په دوو « ی » ګانو تلفظ کيږي . سره له دې هم تر اوسه پوري هر چيري په يوه « ی » باب دئ . په دغه راز مغيره جمعو کي د دوو « ی » ګانو ږغ د فونيميکو تورو او نخښو په کومک ډېر ښه پېژندل کيږي :

که « لنډيو » په يوه « ی » وکاږو، نو په فونيميکو تورو به داسي بڼه ولري : **lanḍ-yu**

که « لنډييو » ( په دوو ياوو) وکاږو، نو په فونيميکو تورو به داسي بڼه ولري : **lan-ḍəy-yu**

لومړئ بڼه دوه سېلابه او دوهمه بڼه درې سېلابه لري . موږ هم ټولي مغيره جمعي په درې سپونه وايو لکه : هوسييو( هو+ سئ+ يو)، خوښييو( خوَ+ ښئ+ يو)، ښاديو( ښا+ دئ+ يو)، ورځنييو( ورځَ+ نئ+ يو) او داسي نور؛ ځکه يي نو بايد همېشه له تلفظ سره سم، په دوو « ی » ګانو وکاږو . له هستئ(**lə-has-téy**) او له هستييه (**lə-has-téy-ya**) د « ی » د درونددوالي يا تکرار له اړخه ډېر فرق لري . « له عاشقی » او « له عاشقييه » هم د دې ډلي دوه نورو مثالونه دي، چي په هغو کي د « ی » ږغونه د ثقلت له پلوه ډېر تفاوت لري . البته، دلته بحث پر دې نه دئ، چي « له عاشقی » سهي دئ، که « له عاشقييه »، بلکي مقصد دا دئ، چي په دوهمه بڼه کي د « ی » ږغ په واضح ډول درونډ، زورور او تکرارېدونکی دئ . د دواړو عبارتو وسېلابو يا هجاوو ته که ښه پام وکو، له ورايه ګورو، چي اول عبارت درې سېلابه او دوهم څلور سېلابه دئ . « له عاشقی » او « له عاشقييه »، « له خودئ » او « له خودييه »، « له کښتئ » او له « کښتييه » او داسي نور ټول د « ی » په ږغ کي يو له بله توپير لري . د پخوانو شاعرانو په شعري ديوانو کي هم دوهم راز عبارتونه په دوو ياوو ويل کيږي،که نه نو د يوه نيم بيتي په وزن کي هرومرو کمی يا زياتی پيښيږي .

موږ په خوله « کيي **kaii** » وايو؛ خو په ليکلو کي « کوي **kawi** » کاږو. تاسي څه فکر کوئ، ايا زموږ پلرو او نيکو دا ټکی « کيي » وايه که « کوي »؟ ښايي ځيني کسان د زياترو زړو خطي نسخو په استناد استدلال وکي، چي زموږ پلرو او نيکو دا ټکی د « کوي » په بڼه وايه . زه وايم دا خبره سمه ده، چي د پښتو ادب د منځني پېر په خورا ډېرو خطي نسخو کي د « يي » پر ځای « وي » او د « کيي » پر ځای « کوي » کښل سوي دي ( که څه هم په ځينو شعري ديوانو کي د « يي » او « کيي » شکلونه هم راغلي دي)؛ خو سره له دې هم د املا دا بڼه د پښتو ژبي د لرغونو ږغو بشپړ او دقيق استازيتوب نسي کولای؛ ځکه زموږ پلرو او نيکو خو « چي »، « بلکي »، « تسپي/ تسبي »، « اروا»، « مانا/ معنا »، « پام »، « غوندي »، « ګوندي » او داسي نور ټکي هم د « چه »، « بلکه »، « تسبيح »، « ارواح »، « معنی »، « فهم »، « غُنډِ »، « ګنډِ » او داسي نورو په بڼه نه ويل؛ مګر سره له هغه هم په ټولو زړو خطي نسخو کي د دغه راز ټکو املا د پښتنو د مروج تلفظ پر ځای د

عربي ژبي د دود او دستور په پيروۍ کښل سوي ده . ګومان کوم زموږ مشرانو به هم څو سوه کاله مخکي « کوي » ، « اړوي » ، « بدلوي »، « کاروي » او داسي نور عبارتونه کټ مټ په هغه بڼه ويل، چي موږ يې نن وايو: کيي، اړيي، بدليي، کاريي او داسي نور؛ خو د هغه وخت د مسلط عربي او پاړسي ليکدود د ژوري اغېزې په وجه يې، له خپل مروج پښتني تلفظ سره سم نه ليکل يا يې نه سواى ليکلاى . « دنيوي »، « عنعنوي »، « قبيلوي »، « جبهوي » او داسي نور هم تول له دې ډلي څخه دي، چي په ليکلو کي د عربي او پاړسي ليکدود پيروي سوي ده . که نه نوپښتانه خو دا ټکي په عمومي ډول د « دونيايي »، « عنعنه يي »، « قبيله يي »، « جبهه يي » او داسي نورو په بڼه وايي؛ ځکه همدا رنګه تلفظ يې د ژبي له ږغيزو ځانګړتياوو سره همرنګي او نيژدې والى لري . په پاړسي کي لا ځيني ليکوال د « دنيوي »، « عنعنوي »، « قبيلوي »، « جبهوي » او داسي نورو په عربي رنګ او جوله پوهېدلي دي؛ ځکه يې نو نن سبا د خپلو صوتي خصوصياتو له مخي د « دونيايي/ دنيائى »، « عنعنه يي/ عنعنه ئى »، « قبيله يي/ قبيله ئى »، « جبهه يي/ جبهه ئى » او داسي نورو په بڼه وايي او کاږي . په دې څو مثالو او بولګو کي له ورايه ښکاري، چي زموږ پخوانو شاعرانو، ليکوالو او پوهانو د خپلو او پردو ټکو په ليکلو کي د عربي او پاړسي ژبي د پراخ نفوذ له کبله د پښتو ژبي و ږغيزو ځانګړتياوو او پښتني تلفظ ته د معيار او ملاک په سترګه نه کتل .

که تصور وکو، چي زموږ مشرانو پخوا دغه راز ټکي د لرغونو خطي نسخو د ليکدود ( کوي، اړوي ، بدلوي، کاروي او داسي نورو) په بڼه ويل؛ خو تر څو پېړيو بدلون او تطور وروسته اوس په دې بڼه ( کيي، اړيي ، بدليي، کاريي او داسي نورو) اوښتي دي، بيا هم د اوښتي وينګ په منلو او رواجولو کي هيڅ خنډ او مانع نه ليدل کيږي؛ ځکه په داسي تغيير او تحول کي د « کيناستل »، « کنځل »، « ښنل »، « کوسه »، « زبه/ جبه » او داسي نورو پر خلاف، د پښتو و اصيلو ږغو ته هيڅ زيان نه رسيږي . زموږ خلګ اوس په خپلوورځنيو خبرو او محاورو کي وايي : « احمد په دوکان کي کار کيي . » نه وايي : « احمد په دوکان کي کار کوي . » زموږ خلګ د پوښتني په ډول وايي : « دا بم به د چار کار يې؟ » نه وايي : « دا بم به د چار وي؟ » يا وايي : « څه کيي؟ » نه وايي : « څه کوې؟ »

موږ ټول پوهېږو، چي « درنده » د جنس له اړخه مؤنثه کليمه ده؛ او له « دروند » څخه اخيستل سوې ده؛ خو خلګ يې اوس د ثقلت او ګرانۍ له اسيته د « درنده » په بڼه نه وايي . خلګ اوس دا کليمه د« درنه » په بڼه وايي؛ مثلاً وايي : « هغه هيندوانه درنه ده »، « آ ګونۍ درنه ده »، « دا وسله درنه ده » او داسي نور . ګرسره، اوسرى، مازيګر/ ماځيګر او داسي نور هم ګرده له دې ډلي څخه دي، چي د زمانو په تېرېدو سره يې په ږغيز سکښت او جوړښت کي واضح بدلونونه راغلي دي . خلګ نور دا ټکي په عمومي توګه د « ګردسره »، « اوسترى »، « مازديګر » او داسي نورو په بڼه نه وايي . موږ يې هم بايد د خلګو له اوسني تلفظ او ږغيز جوړښت سره سم وکاږو. کله چي د يوه ټکي په ويلو او ليکلو کي توپير او دو رنګي وګورو، بايد سمدلاسه نتيجه واخلو، چي د پاکستانيانو په اصطلاح هرومرو څه ګړبړ پيښ دئ . دا ګړبړ له ورايه ښيي، چي موږ په پټو سترګو د نورو ژبو پر دود او بايده پل ايښئ دئ؛ او له دې لاري مو وخپل ليکدود ته لوى زيان اړولئ دئ . زموږ پوه او داراک لوستونکي دي په خپله قضاوت وکي، چي د ايرانيانو اوسنى پاړسي د « زبون »، « آسومون »، « شيطون »، « مون »، « جونم »، « ميتونيم »، « ميتونيستيم » او داسي نورو په بڼه ښه معرفي کېداى سي، که د « زبان »، « آسمان »، « شيطان »، « مان »، « جانم »، « ميتوانيم »، « ميتوانيستيم » او داسي نورو په بڼه ؟ په بله وينا، د ايرانيانو اوسنى تلفظ له کم ( کوم ) ډول ليکدود سره همرنګي يا نيژدې والى لري؟

که ځوک ځو سوه کاله وروسته د ایرانی پاړسي د اوسنییو ږغیرو ځانګړتیاوو په اړه څېړه او پلټنه کیي، ایا « زبون »، « آسومون »، « شیطون »،« مون »، « جونم »، « میتونیم »، « میتونیستیم » او داسي نور به هغه ته د ایرانیانو د اوسنییو تلفظو په باره کي سمه او دقیقه لار وښیي، که « زبان »، « آسمان »، « شیطان »، « مان »، « جانم »، « می توانیم »، « می توانستیم » او داسي نور؟ له شکه وتلي خبره ده، که ایراني لیکوال په خوله « آسومون » او « شیطون » وایي؛ خو په قلم « آسمان » او « شیطان » کاږي، په دې کار سره خو خپل راتلونکي نسلونه له لوی جنجال او سرخوږي سره مخامخ کیي . د راتلونکو نسلو محققان بې ( به یې) هم هېښ پېښ یي، چي پلرو او نیکو یې په څه ډول خبري کولي؛ ځکه د کاغذ پر مخ خو« آسمان » او « شیطان » لیکل سوي دي، حال دا چي د هغوی اصلي تلفظ د « آسمون » او« شیطون » په بڼه دئ . البته د نړۍ نوري ژبي هم له دې ږغیري نیمګړتیا څخه خالي نه دي؛ مثلاًپه برتانوی او امریکایی انګلیسي کي ځیني خلګ (often) کلیمه د « آفتن » او ځیني نور یې د « آفن » په بڼه وایي؛ خو ټول یې په ګډه د آفتن (often) په بڼه کاږي . ستاسي درنو لوستونکو په نظر د دې ټکي کم تلفظ ولیکدود ته نیژدې دئ؟ بېله شکه هر ځوک وایي، چي د « آفتن » په بڼه د دې ټکي ویل و لیکدود ته ډېر نیژدې دئ؛ په دې چي هر توری یې د یوه ځانګړی ږغ استازیتوب کیي .که ځیني کسان اوس دا ټکی د « آفن » په ډول وایي دا د بېلابېلو کلیمو په وینګ کي د تغییر او بدلون و اصل ته ګوته نیسي، چي هیڅوک یې مخه نسي نیولای . د دې دپاره چي د تلفظ دا نوی بدلون ښه وپیژندل سي، معقوله لار دا ده، چي د دې ټکي له املا څخه هم د تي ( t ) توری وباسي(**ofen**)؛ او په دې وسیله خلګ په ویلو او لیکلو کي د دو رنګی او جلاوالي له عذابه وژغوري . د همدې دلایلو له مخي ټینګار کوم، چي زموږ لیکلي اثار باید د پښتنو دږغیرو خصوصیتو، لغوي زېرمي، ګرامري جوړښتو او نورو فرهنګي ارزښتو هر اړخیزه او بشپړه ترجماني وکي .

پاته لري